# په هنګری کی پناه غوښتنه

**تاسی په هنګری یا مجارستان کی یاست اوددی هیواد رسمی ژبه مجاری ده**

**مجارستان داروپایی تولنی غړی او په مرکزی ختیز اروپاکی پروت هیواد دی** .

تاسوته دترن یا دبوس تکت په وړیاتوګه درکول کیږی چه باید دمهاجرینو کمپ ته لارشی ، دبرسن ، بیچکه ، واموش سابادی او یا بالاشاجارمات ته لارشی،یا په ترن کی او یا په بس کی سفرکولای شی خو نه دبوداپست ښارکی دننه دتکت اعتبارموده صرف دوه ورځی دی

**له سګد ښارنه تر دبرسن پوری(۴ - ۵** )ساعت لاره ده په **(سګلید)**کی باید ترن بدل وکړی.

**له سګد ښارنه تر بیچکی پوری( ۳- ۵)**ساعت لاری ده په**( کلن فولد)** او یا په **(بوداپست)** کی ترن بدل وکړی

**له سګد ښارنه تر وموش سابادی پوری ( ۴- ۵** )ساعت لاره ده،په **(کلن فولد)**کی ترن بدل وکړی بیا په**( جور)** ښارکی بس سره ځی

**(وموش سابادی)** ته تقریباً دیرش دقیقی لاری دی.

**له سګد ښارنه تر بالاشجارمات پوری( ۵- ۶** )ساعت لاره ده ۲ ځلی ترن بدلیږی ۱ په بوداپست **(کلتی یا کوبنیا کیش پشت)**بیا آسودته که چیری **(بوداپست اوی پشت)** ته ځی نو بیا کولای شی بس سره **(بالاشجارمات)** ته لارشی.

د مهاجرینو په کمپ کی تاسوته دخوب بستر،په ورځی دری وقت دودی، یا په ورځی 1000فورنت د دودی بیسی درکول کیږی او 8000 فورنت تاسو ته چیب خرځی درکول کیږی .

تاسوته اقامت کارت درکول کیږی چه دتاسی نوم او شهرت په کی لیکل شوی یی .

که چیری تاسو ته کومه ناروغی پیښه شی نو په کمپ کی داکتر حضور لری مرسته کوی

که وکیل ته اړتیا ولری د هلسنګی کمیته ته درخواست کولای شی،په وریا توګه تاسوته وکیل درکول کیږی .

په دبرسن کی له دوشنبه نه تر جمعه ورځی د هلسنګی وکیلان شتون لری

په وموش سابادی او بالا شجارمات ښارکی هره دوهفتی بعد د هلسنګی وکیلان ځی ، نو تاسو کولای شی له خپل سوسیال نه پوښتنه وکړی په دی هکله تاسو ته دقیق معلومات ورکړی.

که چیری تاسو خوب نشی کولای دیری اندیښنی لری اوروحی حالات ښه نه دی نو په دهکله تاسوته دکوردلیا موسسی دوکتوران تر علاج لاندی نیسی او مرستی کوی.
که غواړی چه تاسودپناهنده په صفت قبول وشی نوله تاسونه یوی کوچینی او یوی لوی انتریواخیستل کیږی،تاسوباید وواياست په کوم دلیل او علت اخپل هیواد پرایښنی دی باید دقیق معلومات راغوند کړی،تاسو ته ترجمان درکول کیږی ترجمان دیره مهم ده،که چیری دیوبل خبره ونه پوهیږی سمدستی باید کیس آفیسریا همغه کارمند ته چه له تاسونه انتریو اخلی ووایی،له انتریونه یوکاپی خپل ځانته وغواړی،ځوک چی له تاسو نه انتریو اخلی مسووله دی چه ستاسو رازونه مخفی او پټ وساتی او هیڅ ځوک ته ونه وایی .

که چیری یوبل اروپایی ملک ستاسو دګوتونښی ونیوله نو کیدای شی ددوبلین کرنلاری په اثر تاسوته بیرته همغه ملک ته راواستوی
که چیری په مجارستان کی پولیس ستاسود ګوتونښی ونیوله نو بیرته تاسوته مجارستان استوی.
که چیری تاسی بلکل له اروپاه نه دری میاشتی لپاره لارشی اوو کولای شی ځان ثابت وکی له همغه ملک نه دبس تکت یا د همغه ملک پیسی یا کوم نور شی ځان سره راولی او دا تایید وشی چه په اروپاه کی نه وسیدله نوبیا تاسوته بیرته نه استوی .

تقریباً له ۴ میاشتی نه شروع تر ۶ میاشتی دلوی انتریو نه وروسته پریکړه کیږی په هنګری کی دری

دوله قبولی وجود لری.

**۱- لس کلنه ځواب** په دی ځواب کی تاسی کارکولای شی دمجارستان هیواد تر دوه کاله پوری تاسو ته پیسی درکوی،ستاسوماشومان کولای شی چه ښوونځی ته لارشی او تاسی کولای شی اخپل کورنی وغواړی.

**۲- پنځه کلنه ځواب** په د ځواب کی کار کولای شی دمجارستان هیواد تر دوه کاله پوری تاسو ته پیسی درکوی او ستاسوماشومامونو کولای شی ښونځی ته لارشی .

**۳- یوکلنه خواب** ددی ځواب سره کار نشی کولای دمجارستان هیواد تاسوته پیسی نه درکوی او تاسی نشی کولای چه اخپل کورنی راوغواړی .

**که چیری ستاسی دپناهندگی ځواب رد شی ، نو تاسی باید بیرته اخپل ملک ته لارشی .**

که چیری تاسی دا پریکړه و نه منی نو تاسو کولای شی تر( ۸ )ورځی پوری سمدستی محکمی ته درخواست ولیکی او له محکمی نه راوغواړی چه تاسوته قبولی ورکړی،دا درخواست کیدای شی پخپل ژبه راولیکی چه زه دا پریکړه نه منم او ددی پریکړی سره موافق نه یم .

که چیری ستاسو کیس په جریان کی وی نو په د وقت کی وغواړی چی وتښتی نو په دی حالات کی کیدای شی( ۶) میاشتی لپاره تاسوته په زندان کی وساتی ، تاسو قاضی ته ووایی چی خه اندیښنی لری په کوم دلیل اوعلت تاسی اخپل هیواد پرایښی دی، اگر کومی ناروغی ولری چه تاسو ته له قید نه آزاد وکی نو تاسو کولای شی د هلسنگی کمیته وکیلان سره ارتباط ونیسی دوی په دی هکله تاسو سره مرسته کوی.